AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړن: رڼاګل اریوبزي ۲۰۲۲/۰۲/۲۸

# چینډ خان په شیدو کې

## د ماشومان له پاره لنډه کیسه

په یوه اوړي کې د سختې ګرمي له امله یوه کلي ته نږدې یوازنی ډنډ وچ شواو دوه چینډ خان هم مجبور شول چې له دې ځایه کومې بلې خوا ته کوچ وکړي. هلته په ګاونډ کې د یوه بزګر کور و. دې کور یو پخلنځی درلود چې تر څنګ یې د خوراکي توکو د ساتلو د پاره یوه وړه او سړه کوټني وه او په کوټنی کې د تازه او غوړو شیدو ډ که کټوه وه.

چینډ خانو چړپ کټوي ته ورټوپ کړل، شیدې یې چیکلې اوشندې یې زبیښلې، ترڅو چې دواړه ښه ماړه شول. او س یې غوښتل چې د کټوي نه بیرته را و وزي. هڅه یې وکړه چې د کټوي نني دیوال ته په لامبو ځان ورسوي، خو دا چې ډیرې شیدې یې چیکلې وې، هلته یې درسیدو وس ونه رسید.

که هر څومره دیخوا اوهغې خواته سرګردانه وخوځیدې او یو خوا اوبل خوا یې توپونه و وهل، دکټوي نه یې د راوتو امکان پیدا نه کړ. ورو ورو ستړې شول او له پښو ولویدل. په پای کې یوه چنډخ دې بل ته و ویل چې:

« ملګریه ! موږ نور ختم یو، زموږ د خلاصون لاره اوچاره نشته، هلې ځلې نور مانا نه لري.» او د دې خبرو سره یې ځان خوشې کړ او په شیدو کې ډوب شو. دابل چینډخ تمه لنډه نکړه خپلو هڅو ته یې دوام ورکړ او توله شپه یې په شیدو کې په لامبو اوخیزونو تیره کړه. د بلې ورځې په سهر، کله چې د لمر تودې شغلې کوټنی ته ننوتې، چنډخ دکوچو په غوندارې ناست و، اوس بې له دې ځایه په خپل تول قوت یو توپ وکړ او دکټوي نه را و وت.

دالمني سرچینونه:

Bezaubernde Kurzmärchen aus aller Welt


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ